پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۹/۰۵/۲۸م

د ۲۰۰۹ کال د می په ۱٤ نیټه ( په افغانستان کی دسولې اوپخلاینې لار) ترنامه لاندی یو فاروم ( کنفرانس ) په مسکو کی دروسیې د دموګرافی، مهاجرتونو او منطقوي پرمختیا انستیتوت لخوا چې یوه غیردولتی موسسه ده , په پام کی نیول شوی وو . په فاروم کی دبحث وړ وړاندیزونو یوه طرح په روسی , پښتو او دری ژبو د ,, تل افغان ،، په سایټ کی خپره شوی وه چې دافغانستان په اړه یی تر لویه بریده په زړه پوری موضوعګانی په ګوته کړی وی . فاروم ته می د طرحي د اړوندو خبرو په هکله خپل دنظر تکي د یوی لیکنی په ترڅ کی په روسی ژبه سره راټول کړه اودکنفرانس دپیل نه می وړاندی دانسجام ډلي ته ولیږل او په کنفراس کی می هم د بحث پروخت په ټاکلي سیکشن کی ټینګار پری وکړ . دنوموړې لیکنې د منځپانګی پښتو بڼه په لاندی کرښو کی تر مینه والو لوستونکو پوری رسوم :

# دافغانانو ستونزی او دروسیی سرخوږی

په افغانستان کی دتراژیدی دیادولو سر جوخت داسوال رامنځته کیږی چې دنوموړی تراژدی لاملونه او ریښې له کومه راغلي . کنفرانس ته د وړاندیزونو په طرح کی دافغانستان دپرابلم یو لامل هم د۱۹۷۹ کال د دیسمبر څخه د ۱۹۸۹ کال تر فیبروری پوری دافغان حکومت په پلوی په جنګی عملیاتو کی دشوروی وسله والو قوتونو برخه اخیستل ګڼل شوی دی . که څه هم پدغی یادونې کی دهغه وخت دشوروی مشرتابه دپالیسیو ومنفی اړخ ته ګوته نیول شوی , مګر زما په اند دعلت ښودلو داډول فورمول بندی د موضوع ټول واقعیت نه څرګندوی . داځکه افغانانو اونړیوالو په ڼو سترګو لیدل چې د ۱۹۷۹ د دیسمبر ( د ۱۳۵۸ دجدی شپږمي ) وروسته دایوازی په جنګ کی دشوروی اردو برخه اخیستل نه بلکه د دوست هیواد افغانستان نیغ په نیغه اشغال وو . لدی نه پرته داخبره هم ترلمر سپینه وه چې داشوروی قوتونه نه وه چې په جنګی عملیاتو کی یی دافغانی حکومت په پلوی برخه اخیستل بلکه دا دافغانستان کښینول شوی حکومت وو چې دشوروی قوتونو په پلوی یی دازادی غوښتونکی پاڅیدلي اولس په وړاندی په جنګی عملیاتو کی برخه اخیسته . اوس وینو چې ددغو دوو فورمول بندیو منځپانګه یو له بله څرګند توپیر لری . پکارده چې واقعیتونه په خپله اصلي بڼه وښودل شی څو پربنسټ یی څیړنې او شننی هم ریالستیکه بڼه واخیستلای شی .

لکه څنګه چې دافغانستان پرونی تراژیدی شوروی امپراتوری دړی وړی کړه او دولادیمیر پوتین په وینا دا کار دشلمې پیړی تر ټوله ستره جیوپولیتیکی فاجعه وګرځیدل , همدارنګه په پخوانې شوروی جمهوریتونو کی نننۍ بحران , دقفقاز بی ټیکاوه حالت , په جنوبی اوسیتین کی کړکیچ , اوکراین او ګرجستان ته دناټو نژدیوالی , دنشه ای توکو بزنیس او دروسیی پر شاوخوا دناټو راټولیدل او داسی نوری ډیری ناخوالې چې روسیی ته یی سرخوږی پیداکړی دي , دافغانانو داوسنې ناورین سره بی اړیکو ګڼلای نشو .

په وړاندی شوې طرحه کی زه د طرحی دلیکونکو سره په بشپړه توګه همږغی یم چې لیکی : ,, څیړنې او شننې ښئی چې د روسیی پرشاوخوا د پرتو ناخوالو څخه دوتلو او خلاصون یوازنی ریالستیکه لاره داده چې په افغانستان کی باید د یوه ازاد , قوی او یوموټې دولت دجوړیدو پخاطر لیځی را ونغښتلې شی . داکار دپرنسیپ له مخی په نوی بڼه سره هلوځلو اړتیالری ،، .

پدی توګه زه دکنفرانس یا فاروم وټولو ګډون کونکوته وړاندیز کوم چې همدغه ټکی دبحث او لانورو څیړنو پخاطر داصلی موضوع په توګه وټاکې , په هراړخیز ډول یی ترژور بحث لاندی ونیسی اوترهغی کچې یی بشپړ کړی څودکنفرانس دپریکړو په لړ کی دروسی فدراسیون مشرتابه ته پدی موخه وړاندی شی چې دافغانستان دسولې او پخلاینی په لارکی یی دخپل دریځ په توګه په پام کی ونیسی او دپیاده کولو دپاره یی دخپل لوری نه هراړخیزی هلې ځلې او مرستې وکړی .

داخبره باید له یاده ونه باسو چې روسیه دشوروی اتحاد دمستقیم ځای ناستې په توګه که څه هم اوس هغه زبرځواک ندی خو په سیمه کی دیوه اغیزمن ځواک پشان کولای شی دافغانستان دټیکاو په چارو کی لکه منفی , همداسی مثبت رول ولوبوی . خوترهغه ځایه چې د افغانستان کړکیچ په روسیه کی هم دناخوالو ریښو ته اوبه ورکوی , ځکه نو دا د روسیی په ګټه ده چې ددغه هیواد د ټیکاو سره مینه وښئی او دزړه له کومی یی ملاتړوکړی .علامه اقبال لاهوری چې پخپله افغان هم نه وو , دافغانستان په اړه یی څومره ریالیستیکه یادونه کړیده :

اسیا یک پیکر اب و ګِل است
ملت افغان دران پیکر دل است


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

زفساد او فساد اسیا
وزګشاد او ګشاد اسیا
( فساد دلته دناخوالواو کړکیچونو په مانا او ګشاد د ازادۍ او ارامی په مانا راغلې دی )

له همدی کبله دغه داسیا زړه او مهم جیوپولیتیکی موقعیت ته یی تل دنړیوالو پام اوښتې اوچی چا ددغه زړه ناروغتیا غوښتې ده , پخپله دزړه په درد اخته شویدی . ددغه واقعیت پایلې دمعاصر تاریخ په وروستیو کی له هرچانه روسیی ته ښه معلومی دی . تاریخ ښودلې اودافغانستان نننۍ ستونزی ددی ښکارندوی دی چی پدی هیواد کی ناخوالې نه یوازی سیمه بلکه تر ټاکلې کچی ټوله نړۍ په یوه یا بل ډول د ستونزو سره لاس اوګریوان کولای شی .

داخبره هم له هیچانه پټه نده چی په سیمه کي دامریکایی وسله والو قوتونو او دناټو دپوځی ټولګیو شتون روسیی ته د سرخوږ جوړوي , دغه هیواد ویوه بل ساړه جنګ او ورسره تړلو وسلوالو سیالیو ته راکاږی چی داکار وسترو مادی اومالی لګښتونوته اړتیالری , د روسیی اولسونوته اقتصادی ستونزی زیاتوی , دنشه ای توکو قاچاق اوبزنیس پراخوی , دفوندامنتالیزم زنۍ زرغونوی , دفناتیزم مختلف ډولونه راپاروی اونړیواله مافیا چی روسیه داګړۍ هم تری نه بیغمه نده , غښتلې کوی . داټول فکتورونه روسی نیشنلیزم ته وده ورکوی چی داکار بیا د ګڼ میلتی روسیی وملی یووالې ته خورازیان رسوی .

ددغو ټولو واقعیتونو په پام کی نیولوسره روسیی ته پکار ده دیوه ازاد , یوموټې اوپیاوړی افغانستان دجوړولو په چارو کی مرسته وکړی او دشوروی کرملین دغلط , دوه مخی او داخلاقی چوکاټ نه وتلې سپاست سره دتل دپاره مخه ښه وکړی . روسیی خو بیله هغه هم په عمل کی ولیدل چی دهغه شیطانی سیاست پایلو دشلمی پیړۍ تر ټولو ستره جیوپولیتیکی فاجعه منځته راوستل اوتاریخی روسیه یی د زبرځواکۍ نه شاته وغورځول . روسیه باید داخبره هم په یاد ولری چی دنړیوالو پرابلمونو دحل په چارو کی د روسیي مثبته او صادقانه ونډه اخیستل , دنړیوالو په وړاندی د روسی دولت اعتبار جګوی اوپه کور دننه کی یی سیاسی مشرانو ته ګرانښت ور په برخه کوی .

کنفرانس ته وړاندی شوی طرح دافغانستان په اړه د روسی لوړکچوسیاستوالو ترمنځ د دری ډوله نظریو دشتون یادونه کوی . زما په اند یوازی د دریمی ډلې نظر ریالیستی بڼه او دواقعیت سره تړاولری چی هغوی دیو موټې , ازاد اوپیاوړی افغانی دولت جوړول اوټینګښت دروسیی په ګټه بولې او روسی چارواکی ددغسی دولت په جوړیدو کی دهر راز مرستی ښندلواو ټینګ ملاتړ پخاطر هڅوی . د همدی لامله دکنفرانس ګډون کوونکو ته پکار ده څو ددغی ډلې سیاستوالو پرځنګ و دریږی او د دوی دریځ پیاوړۍ کړی .

په طرح کی همدارنګه د م. م. تر پوښښ لاندی د ( په افغاستان کی سوله او سوکالې ) ( # ) پنامه دیوه نوی نړیوال کنفرانس د رابللو وړاندیز شوی چی په کابل کی باید ترسره شی . ماته داموضوع ځکه په زړه پوری ښکاره شوه چی ما لا څه موده وړاندی په خپله یوه لیکنه ( د ټولټاکنو ستونزی او دټیکاو لارنقشی ) ترنامه لاندی دپوهنوال روستار تره کی او ښاغلی وحید وحیدالله پر ورته وړاندیزونو باندی خپل نظر څرګند کړی وو او لوستونکی یی په افغان-جرمن انلاین او نورو افغانی سایتونو کی لوستلای شی . دبن دکنفرانس ترټولو ستره نیمګړتیا هم دا وه د طالبانو غورځنګ یی په کړکیچ کی دیوه اغیزمن اوپیاړی قوت سره سره له پامه وغورځاوه او دیوی وړوکی سیاسی ډلې ګټی یی دهیواد داکثریت اولس پر ګټو باندی وتپلې . په نوی نړیوال کنفرانس کی دګډون کوونکو لړلیک اودکنفرانس دندی هم تر لویه بریده په وړاندیز کی په ګوته شوی چی زما په ګمان بشپړی ندی , لانور بحث اوبشپړولو ته اړتیالړی . زما وړاندیز دادی چی ددغسی یوه احتمالی نوی نړیوال کنفرانس تر رابللو دمخه باید په افغانستان کی داوسنی کړکیچ دافغانی اړخونو تر منځ دعادلانه پرنسیپونو پربنسټ دسولی تړون لاسلیک او په کنفرانس کی بیا دهغه حقوقی اړخونه ټینګ او دپاخه او دایمی انفاذ دپاره یی تظمینونه په ګوته شی . نړیوال کنفرانس ته باید همدارنګه دافغانستان دهراړخیزی بیا رغونی یو کومپلکس پلان ( ماشال پلان ) چی اوملیک یی لا دمخه جوړ شوی وی , دځیړنی او تائید په موخه وړاندی شی . ښه به دا وی چی ددغه نړیوال کنفرانس دلاری م. م. ته وړاندیز وشی څو دسوله ایز افغانستان دپاره د بی طرفی ستاتوس ( موقف ) ومنی او تظمین یی وکړی . پدی توګه به افغانستان دنامهربانو ګاونډیانو له لاسوهنی بیغمه او دسوکالې لاره به خپله کړی .

په افغانستان کی دسولې تړون ته دلاری هوارولو په موخه دښه نیت ښودلو په توګه ضرور ده د وسله وال اپوزیسیون سره تړلې سیاسی بندیان ازاد اومشران یی له تورلست نه وایستل شی . فکر کوم که ددی کار دپاره ټینګه اراده شتون ولری , کیدلای شي دامریکا نوی اداره داړوندو لارو وهڅول شی چی په پوره باور به هغه هم دی خبری ته غاړه کښیږدی . طالبانو هم ددی وطن په کوڅو کی خاړپوځی کړی او وربانډی ګران دی . دبل پلو نه دعلمای کرام په توګه دوی پدی ښه پوهیږی چی په سوله او شګوفانۍ کی خلګ خپل دینی وجایب په ښه ډول ترسره کولای شی چی پدغه کارکی بیا د دارالفنا او دارالبقا ( دنیا او اخیرت ) ګټې نغښتې دی . ددی دپاره چی دسولې تر تړونه پوری لاره لنډه شی , پکار ده م. م. , امریکا , اروپایی ټولنه , روسیه او چین پر پاکستان اوپه ځانګړی توګه دهغه هیواد پرځارګري اداری ( I.S.I ) باندی زور واچوی او مجبوره یی کړی چی پدی لاره نور دخنډ اچولو نه لاس واخلې .

په مسکو کی را بلل شوی فاروم ته د وړاندیزونو طرح دیوی بیخی نوی خبری یادونه هم کوی چی هغه دپښتنو او روسیی تر منځ د دیالوګ غوښتنه ده . که دخدای حق خبره وکړم , زه پدی باندی پوه نشوم چی دی کار ته


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

دهدف په سترګه کتل شوی که د وسیلې ؟ ددغه هدف یا وسیلې اصلې منطق څه دی ؟ د دیالوګ موخه , دندی او لدی نه به دواړو خواوو ته ترلاسه کیدونکی احتمالې ګټی کومی وی ؟ زه ډارلرم چی داکار به ترکیی ته بهانه پلاس ورکړی څو دافغانی ازبکو وړونو سره ځانته جدا دیالوګونه مخته بوزی , ایران او تاجکستان به بیا زموږ دهزاره وړونوسره چی شیعه مذهب پالی اوتاجکو وړونوسره چې ژبنی نژدیوالی لری , دیالوګونه په لاره واچوی . زما په اند به دا کار په طرح کی د واحد , یوموټې , ازاد او پیاوړی مرکز درلودونکې افغانستان دجوړولو سره په ټکر کی راشی او دغه بنسټیزه موخه به ترسوال لاندی راولې .

داخبره څرګنده ده چی دهیواد جنوبی او ختیځ ولایتونه چی پښتون میشته سیمې دی داخیرنیو درو لسیزو ناتار سخت ځپلې او دا اوس هم دخاوروسره خاوری پاته دی . داچی وړاندی شوی طرحې دافغانستان دبیارغونې په لړ کی دننګرهار او هلمند ولایتونو ته دځانګړی پلان سره پام اړولې , دا د خوښی خبره ده , دعدالت منطق سمون ورسره خوری او دطرح کوونکوڅخه په مننې ارزی . که روسیه دطرح شوی وړاندیز سره سم دننګرهار او هلمند پشان دجنوبی ولایتونو په هراړخیزه رغونه او بیا ودانولو کی پوره او صادقانه مرستې وکړی , دا به دنوموړو سیمو داوسیدونکو سره چی نژدی ټول یی پښتانه دی دروسیی اړیکی ټینګی او د دیالوګ یو طبعی شکل به منځته راولې . زه فکر کوم دا یوازنی ډاډمن متود دې چی دخلګو زړونوته لاره لنډوی او یوپربل باندی دباور فضا پراخوی . لدی نه پرته پداسی حال کی چی مرکزی دولت وجود لری د روسیی او پښتنو ترمنځ دمستقیم دیالوګ پرمخ بیولو دپاره سیاسی منطق ماته کمزوری ښکاری او هیڅ اړخ به هم تری نه ګټه پورته نکړی .

په پای کی باید ووایم چی په طرح کی ډیر په زړه پوری ټکی ځای شوی دی , که روسی دولت هغه په صاقانه ډول دافغانستان په اړوند دخپلې ستراتیژی بنسټ وګرځوی او په پیاده کولو یی کی لازمی هلی ځلې وکړی , کیدلای شی د شوروی دولت نه راپاتی شوو زخمونوته لړغوندی ټکورشی او افغانان پدی پوه کړی چی روسیی د شوروی دولت له پالیسیو سره خدای په امانې کړیده .

پای



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.